Social Sceince
AcademicJournal
لید د پوهنتون ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د خروټو د لهجې محاورې او اصطلاحات

پوهنمل میوند بختیار *[1]
پښتو څانګه، ښووني او روزني پوهنځی، هرات پوهنتون
دمسؤل آیمیل آدرس. maiwand.bakhtyaar@gmail.com

ترلاسه سوېږ: ۱۴۰۳/۰۸/۰۹ منل سوي:۱۴۰۳/۰۸/۱٦ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-1-16 مخونه (۱۹۰-۲۰۹)

## لنډیز

محاورې او اصطلاحات له مانیز او نحوي پلوه هغه نه تجزیه کېدونکي، بدلمانیز، له وییکو او وییونو څخه رغېدلي غونډونه دي، چې په جمله کې د نهتجزیهکېدونکیو واحدونو په توګه جولیزه او مانیزه خپلواکي ساتي. د محاورو اصطلاحي مانا د ترکیب د اجزاوو له ماناوو څخه لاس ته نه راځي، یعني اصطلاحي مانا یې د ترکیب د اجزاوو په لغوي ماناوو پورې تړلې نه وي. د اصطلاحاتو مانا څه ناڅه د ترکیب له اجزاوو څخه معلومېدای شي. محاورې او اصطلاحات لکه متلونه پخوا جوړ شوي وي، د متکلم په ذهن کې ثبت وي او د خبرو په جریان کې یې استعمالوي. د خروټو لهجه د محاورو او اصطلاحاتو له پلوه غنې لهجه ده او ډېرې محاورو او اصطلاحاتو یې تر لیکني ادب پورې لاره نه ده کړې، نه هم دغه ژبني اصطلاحات چا راټول کړي او تشریح کړي دي. دا ژبني اصطلاحات په ولس کې په شفاهي توګه موجود وي، که خوندي نه شي، د وخت په تېرېدو سره مري، ثبتول یې د ژبې، ادب او فرهنګ له غوړېدا سره مرسته کولای شي. د دې څېړنیزې لیکنې موخه د پښتنو د خروټو قبیلې له لهجې څخه د محاورو او اصطلاحاتو راغونډول او خوندي کول دي. د دې څېړنې ډول کتابتوني او ساحوي دی او موضوع د تشریحي میتود پر مټ شنل شوې ده.

**کلیدي کلیمې:** محاورې، اصطلاحات، لهجه او خروټي.

## سریزه

تقریباً هره ژوندۍ ژبه لکه څنګه چې خپل ګرامر، خپله معاني، خپل فولکلور او خپله وزنپوهنه لري، همداسې خپل ژبني اصطلاحات(محاورې او اصطلاحات) هم لري، چې په هماغې ژبې پسې تړلي، نه ژباړل کېدونکي، بدلمانیز، نه تجزیه کېدونکي ثابت ترکیبونه وي. په دې مقاله کې به د محاورو پر تعریف، له اصطلاحاتو او متلونو سره پر توپیر او له کنایې سره به یې پر اړیکو بحث وشي.

د هرې ژوندۍ ژبې د ښې زدهکړې په موخه د هماغې ژبې د اصطلاحاتو قاموسونه وجود لري، د ژبې ښوونکي او زدهکوونکي ورڅخه په کورسونو او پوهنتونو کې ګټه اخلي او هغو زدهکوونکیو

او محصلانو ته چې دویمه ژبه زده کوي، دا قاموسونه ډېر مرستندوی واقع کېدای شي، د بېلګې په توګه په فارسي ژبه کې د امیر قلي امیني اثر (فرهنګ عوام یا تفسیر المثال و اصطلاحات زبان پارسی) چې په سلګونو اصطلاحات پکې راټول شوي دي. که د پښتو ژبې له بېلابېلو لهجو څخه محاورې او اصطلاحات راټول شي، کتابي بڼه ورکړل شي، بیا هغه څوک چې پښتو ژبه زده کوي یا یې نورو ته ور ښيي، د دغو ژبنیو اصطلاحاتو په زده کړه او پوهېدو کې به له ستونزو سره مخ نه وي. د دې مقالې په ډول، که پښتو محاورې او اصطلاحات د پښتو ژبې له بېلابېلو لهجو څخه راغونډ او خوندي شي، یو خو به دا ژبني اصطلاحات له مرګه وژغورل شي او بل د اصطلاحاتو او محاورو قاموس‌لیکونکیو ته به مو کار اسانه کړی وي. محاورې او اصطلاحات، لکه فولکلوري مواد او لهجوي لغتونه، په ولس کې په شفاهي توګه موجود دي، د ولس د شفاهي توکیو خوندي کول د فرهنګ، ژبې او ادب له غوړېدا او بډاینې سره مرسته کولای شي. د خروټو د ګړدود یا بلې هرې لهجې محاورې او اصطلاحات که راغونډې شي، له مرګه وژغورل شي او څه ناڅه تشریح شي، کله دا ژبني اصطلاحات په شعر و نثر کې استعمالیږي؛ نو لوستونکي به یې د مفهوم په اخیستلو کې له ستونزو سره مخ نه وي. دې ارزښتونو ته په کتو سره ما هم د خروټو د لهجې ځینې محاورې او اصطلاحات راغونډ او خوندي کړل. د خروټو د لهجې محاورې او اصطلاحات تر اوسه چا راغونډ کړي نه وو، په دې مقاله کې یوسلوڅلوېښت ژبني اصطلاحات راټول شوي او تشریح شوي دي، همدارنګه د ځینو محاورو د ښې تشریح لپاره مو مثالونه هم ذکر کړي دي.

## د څېړنې مخینه

په پښتنو لیکوالو کې لومړنی کس ارواښاد محمد ګل نوري وو، چې په( ۱۳۲۰هـ. ش) کال کې یې (د پښتو اصطلاحات او محاورې) په نامه د ژبنیو اصطلاحاتو یوه کوشنۍ مجموعه چاپ کړه. تر ختیځپوه ګلبرتسون او محمد ګل نوري را وروسته خیرالحکم حکیمزی درېیم لیکوال دی چې د خپلې سوات سیمې ښایسته ډېرې ګړنې یې راټولې کړې او پر( ۱۹۹۶ م) کال یې چاپ ته سپارلې دي (زیار، ۱۳۸۴: ۱۴۵) . همدا رنګه په (کوچنی پښتو- روسي قاموس) کې چې مؤلف یې پ.ب. زودین دی، پر دوولس زره پښتو لغتونو سربېره محاورې او اصطلاحات هم پخپله لمنه کې لري(هلالي، ۱۳۵۴). د اسلانف په (پښتو – روسي قاموس) کې هم ژبني اصطلاحات له متلونو او مقولو سره ګډ وډ خوندي شوي دي (هلالي، ۱۳۵۴). د محاورو او اصطلاحاتو په اړه ډېرو ښاغلیو تیوریک بحثونه کړي دي، خو پوهاند مجاور احمد زیار هغه څوک دی، چې هم یې محاورې او اصطلاحات راپېژندلي او هم یې راټول کړي او ثبت کړي دي. د پوهاند زیار اثر (ګړنې او څرګندنې یا محاورې او اصطلاحګانې)، چې په دعوت ویب سایټ کې خپور شوی دی، هم تیورک بحثونه

لري او هم د محاورو او اصطلاحاتو سینډګی دی. همدا راز پوهاند مجاور احمد زیار په (پښتو پښویه: ۲۰۰۵) او (د خوشال ادبي پښتو: ۱۳۸۴) په کتابونو کې محاورې او اصطلاحات راپېژندلي دي. استاد محمد آصف صمیم (د لرغونې شاعرۍ ګړنې: ۱۳۸۷) تر سرلیک لاندې کتاب کښلی دی، د پښتو د لرغونې شاعرۍ محاورې یې پکې راټولې کړې او تشریح کړې دي خو عبدالکریم عامر بیا د خوشال بابا په نثر و نظم کې اصطلاحات او محاورې د (محاورات خوشال: ۲۰۱۲م) تر نامه لاندې راټولې کړې، تشریح کړې او مانا کړې دي او نوموړي د (پښتو محاورې) په نامه بېل کتاب د محاورو پېژندنې ته ځانګړی کړی دی. همدا ډول ډاکټرې زرغونې زېور په (پښتو نحو: ۱۳۸۹) کې، پوهنیار جانداد الکوزي او پوهنمل محمدآقا شېرزاد په ګډه کتاب (پښتو غونډله‌پوهه: ۱۳۸۵) کې او پوهنیار شاه‌محمود کډوال هم د (ګړنې، څرګندنې او نومونې: ۱۳۹۱) په نامه په اثر کې د محاورو او اصطلاحاتو په اړه بحث کړی دی. ښاغلي پیر محمد باوري بیا د (یوه ځولۍ پښتو ګړنې: ۱۳۹۵) تر نامه لاندې د پښتو ژبې محاورې او اصطلاحات خوندي کړي دي. ما هم د محاورو او اصطلاحاتو ارزښت ته په کتو سره د غزني ولایت قره‌باغ ولسوالۍ د خروټو له لهجې څخه یوسلوڅلوېښت محاورې او اصطلاحات راغونډ کړي دي، تر کومه چې ماته معلومه ده، د خروټو د لهجې محاورې او اصطلاحات چا را ټول کړي نه وو.

د دې څېړنې اصلي موخه د خروټو له لهجې څخه د محاورو او اصطلاحاتو راټولول او ثبتول ده، فرعي موخې یې، د محاورو او اصطلاحاتو پېژندنه، د محاورو او اصطلاحاتو تر منځ توپیر په ګوته کول، له متل سره د محاورو او اصطلاحاتو فرق روښانه کول او داسې نورې کېدای شي. په دې مقاله کې مو هڅه کړې ده، دې پوښتنې ته ځواب ومومو، چې د خروټو په لهجه کې په څومره پیمانه داسې محاورې او اصطلاحات شته چې تر اوسه یې لیکني ادب ته لاره نه ده کړې؟ او همدا رنګه: محاورې او اصطلاحات څنګه ترکیبونه دي؟ دا دواړه ځېلونه پخپل منځ کې څه توپیر سره لري؟ محاورې او اصطلاحات له متل سره کوم توپیرونه لري؟ او داسې نورې فرعي پوښتنې مو هم ځواب کړې دي.

## مواد او کړنلاره

د دې مقالې ډېټا د غزني ولایت په قره‌باغ ولسوالي کې له مېشته خروټو څخه د خبرو اترو په جریان کې د دې کرښو لیکوال ثبت او راغونډه کړې ده. د محاورو او اصطلاحاتو په اړه تیورک بحثونه د کتابونو په مرسته پر مخ وړل شوي دي او یوسلوڅلوېښت محاورې او اصطلاحات د خروټو قبیلې له افرادو څخه د خبرو اترو په جریان کې اورېدل شوې او بیا ثبت شوې دي. پاتې دې نه

وي، چې د دې څېړنې ډول کتابتوني او ساحوي دی او په لیکنه کې له تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د راټولو شویو توکیو (ډېټا) تحلیل

مخکې تر دې چې د خروټو د لهجې محاورې او اصطلاحات کتار کړو، پر څو کلیدي وییونو (خروټي، لهجه، محاورې، اصطلاحات، متل او کنایه) باندې لړ لړ بحث کوو:

### لومړی راځو، خروټي څوک دي؟

د غلجي په ټولنیز ګروپ کې د خروټو قبیله یوه مشهوره قبیله ده. د دوی اصلي ټاټوبی د پکتیکا سیمه ده، چې اکثره د ګومل په ولسوالي، د سروبي په علاقه‌دارۍ د اورګون په ولسوالي او د سروضې په علاقه‌دارۍ او دغه راز د خاک‌جبار په علاقه‌دارۍ کې استوګنه لري. یو شمېر خروټي د غزني د ولایت د مقر او قره‌باغ په ولسوالیو کې هم شته. دغه راز په شکردره او پغمان کې هم استوګنه لري. د زابل د شاه‌جوی په ولسوالۍ او د هلمند ولایت په نادعلي او ګرمسېر په ولسوالیو کې هم یو شمېر خروټي استوګنه لري (طالبي، ۱۳۷۰: ۱۱۸).

### دویم، لهجه څه ته وايي؟

استاد غوربندی په خپل اثر، ګړدود (لهجه) پوهنه، کې دا پوښته داسې ځوابوي:"ګړدود یا لهجه د یوې ژبې هغه ځانګړې بڼه ده، چې په یوې ټاکلې جغرافیايي سیمې، تاریخي دورې، ټولنیز قشر یا طبقې پورې اړه لري" (غوربندی، ۱۳۹۵: ۳). پښتو ژبه ډېرې لهجې لري، چې سوېل لوېدیزه لهجه، سوېل ختیزه لهجه، شمال ختیزه لهجه او منځنۍ لهجه یې مشهور لهجوي ګروپونه دي، د قره‌باغ خروټي که څه هم د منځنۍ لهجې له ویونکیو سره په څنګ کې پراته دي، لهجه یې له منځني ګروپ لهجو سره لږ ورته‌والي لري خو د سوېل ختیزو لهجو یعني د ختکو، وزیرو، بنوڅیو او کاکړو له لهجې سره ډېره نژدې ده.

### دریيم، محاورې او اصطلاحات څه ډول غونډونه دي؟

په پښتو ژبه کې ځینې لیکوال محاورې ته ګړنه او اصطلاح ته څرګندنه وايي، چې انګلیسي انډولونه یې ایډیم او ایکسپریشن دي، دا ژبنې اصطلاحات باید له نومونو (Terms) سره ګډ نه کړو.

پوهاند دوکتور زیار محاوره (ګړنه) داسې راپېژني:

"یوه ګړنه له مانیز او نحوي پلوه یو داسې ناشنوړ وییغوند دی، چې له راز راز مانا لرونکو وییونو او وییکو څخه منځته راغلی وي او په ژبه کې زیاتره لکه متل یو نا اټکل کېدونکی لرغونتوب لري" (زیار، ۲۰۰۵: ۳۲۵). ګړنه (Idiom) د دوو یا زیاتو ژبنیو توکیو غونډ (فقره یا عبارت) دی چې په غونډله (جمله) کې د یوه نه شنل کېدونکي یوون "واحد" په توګه جولیږه او مانیزه خپلواکي لري او

کومه ګډه څرګندونه او مانا چې رامنځته کوي، د بېلابېلو رغندو ټوکونو له ماناوو او څرګندونو سره اړخ نه لګوي. کټ مټ لکه د اوبو يو ماليکول چې د اکسيجنو او هايدروجنو يو ترنګ دی او که وشنل شي، خپله ګډه ځانګړتيا او رغښت له لاسه ورکوي (زيار، ۱۳۸۴: ۱۴۶).

تقريباً هره ژوندۍ ژبه ژبني اصطلاحات لري، لکه واخلې انګليسي ژبه، محاورې ته په انګليسي کې ايډيم او اصطلاح ته اکسپريشن وايي، دا ژبني اصطلاحات په انګليسي ژبه کې هم سره توپير لري، محاورې تحت‌الفظي نه شي ژباړل کېدای، لکه:

Feeling a million dollars. که يې ټکي پر ټکي وژباړو: زه يو ميليون ډالره احساس کوم خو مانا يې دا ده چې زه ډېر خوشحاله يم. يا لکه دا ګړنه: Hat-trick. چې يوه مانا يې شهکار ده، بله فوق‌العاده کار او ډېره دود مانا يې دا ده، چې د کريکيټ کوم توپ‌اچوونکی سر پر سر درې لوبغاړي وسوځوي يعني درې وېکټي واخلي يا د فوټبال کوم لوبغاړی درې ګولونه ووهي، نو بيا وايي چې هيټ‌ټريک يې وکړ. که يې تحت‌الفظي وژباړو، نو هيټ يعني خولۍ او ټريک يعني حيله، مکر، دوکه، نيرنګ يا د چا خطا ايستلو ته وايي. لاندې بله ډېره مشهوره محاوره راوړو: Achilles heel.که يې ټکي پر ټکي ترجمه کړو؛ نو د اکليز پونده کېږي خو مانا يې د ضعف نقطه ده، چې په پښتو کې يې معادل محاوره تر خوږ ګوته نيول کېدای شي. په انګليسي ژبه کې اصطلاحات بيا کېدای شي ټکي پر ټکي هم ترجمه شي، يا د غونډ له اجزاوو څخه يې د مشترکې مانا څرک څه نا څه لګول کېدای شي، لکه:.Good bye, Greeting, Take care

ژبني اصطلاحات د معنوي جوړښت له پلوه د وينګرادف په آثارو کې پر درو ګروپونو وېشل کېږي: ۱- په لومړي ګروپ کې هغه ژبني اصطلاحات داخلېږي، چې معنا يې د ترکيب د اجزاوو د معناوو څخه لاس ته نه راځي او اصطلاحي معنا د ترکيب د اجزاوو پر معنا متکي نه وي، لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: په سترګو ننوتل، پر سپين ډاګ غابښ وتل...)، ۲- په دوهم ګروپ کې هغه ژبني اصطلاحات راځي چې اصطلاحي معنا يې د ترکيب د اجزاوو پر مجموعي معنا متکي وي ( لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: د پايڅې رګ پالل، پر بدو اوښتل...) ۳- په دې ډله ژبنيو اصطلاحاتو کې هغه ژبني اصطلاحات راځي، چې اصطلاحي معنا يې په تحليلي ډول د ترکيب د ټولو غړو د معناوو سره ارتباط لري، لکه د پښتو ژبې دغه ژبني اصطلاحات: پښه پر پښه اړول، بانو پر بانو ايښوول، اوره کښل، بګړی د سره لوېدل... (هلالي، ۱۳۵۴: ۱۰۹- ۱۱۰).

پروفيسر ي.و.رخمانف ژبني اصطلاحات پر دوو برخو وېشي، يو هغه ګروپ ژبني اصطلاحات دي، چې عمومي معنا يې د ترکيب د کلمو پر معناوو متکي وي او بله هغه ډله ژبني اصطلاحات دي چې عمومي معنا يې د ترکيب د کلمو پر معناوو متکي نه وي (هلالي، ۱۳۵۴: ۱۱۴) چې

اوسمهال لومړي ډول ته، اصطلاحات او دويم ډول ته محاورې وايو. محاورې پر دوو برخو وېشلای شو، اسمي محاورې او فعلي فعلي محاورې، اسمي هغه له اسمي توکيو (اسم، ضمير، صفت، عدد) او فعلي محاورې له (فعل او مصدر) څخه رغېدلې وي. ما چې څومره پلټنه کړې ده، تر اسمي هغو فعلي په شمېر کې زياتې دي او کارونګ يې هم ډېر دی.

څرګندنه يا اصطلاح (Expression) له ګړني سره همدومره توپير لري چې د ګډې ښندونکې مانا څرګ يې له رغنده توکونو (متشکله اجزاوو) څخه لږ و ډېر لګېدای شي، لکه برخه اخيستل، لاس اخيستل، ترلاسه کول، لاس‌ته راوړل، خوله پر خوله کېدل، مخ پر مخ کېدل، موخې ته رسېدل، وروسته پاتېدل، پر مخ وړل، پر مخ تلل، له منځه وړل، له منځه تلل، ترکار، څېړني... لاندې نيول، پر ښه راتلل، لاس لګول (زيار، ۲۰۰۵: ۳۲۴).

امکان لري چې، ګړني او څرګندني دې له متلونو څخه زېږېدلي وي، د وخت په تېرېدو سره متلونه تراشل شوي او محاورې او اصطلاحات به ترې جوړې شوي وي. محاورې او اصطلاحات توپير سره لري، ممکن په يوه محيط کې يوه غونډه ته موږ اصطلاح ووايو، خو همدا اصطلاح د يوه بل چاپېريال کس ته ممکن پر محاوره واوړي. د اصطلاحاتو پر مانا او موخه بنيادم ژر پوهېدی شي، خو د محاورو پر مانا له لږ ځنډ او سوچ کولو څخه وروسته.

محاورې او اصطلاحات د مانا او جوړښت له مخې دغه لاندې نخښې لري:

۱- نه شنل کېدونکي ترکيبونه دي.

۲- مجازي مانا لري يعني بدلمانيز غونډونه دي.

۳- ټکي پر ټکي نه شي ژباړل کېدای.

۴- هره ژبه خپل اصطلاحات او محاورې لري.

۵- د محاورو له رغنده اجزاوو څخه د اصطلاحي يا مشترکې مجازي مانا څرګ نه شي لګول کېدای، خو د اصطلاحاتو لږ و ډېر لګول کېدای شي. يعني د محاورې اصطلاحي مانا د ترکيب د اجزاوو پر مانا متکي نه وي او د اصطلاحاتو مانا بيا د ترکيب پر اجزاوو څه ناڅه متکي وي.

٦- دا ژبني اصطلاحات ترکيبونه يا غونډونه (عبارتونه) دي، نه غونډلې (جملې).

محاورې او اصطلاحات په شعر و نثر کې د نوښتګرو شاعرانو او ليکوالو له خوا کارېږي، کله چې کومه محاوره يا اصطلاح په شعر کې استعمال شي، د کلام خوند يو په دوه شي. په شعر و نثر کې د محاورو او اصطلاحاتو کارونه د شاعر و ليکوال له ولس سره پر نژدېوالي دلالت کوي، مخاطبين بيا همداسې آثار ژر قبلوي، ځکه پردي نه ورته ښکاري.

محاورې او اصطلاحات له نحوي و صرفي ترکیبونو، عبارتونو او فقرو سره توپیر لري، دا ټول یاد شوي توکي د خبرو په جریان یا لیکنه کې چې کله وکارول شي، لومړنۍ او ظاهري مانا ورڅخه اخیستل پکار دي خو محاورې او اصطلاحات چې کله په خبرو یا لیکنه کې وکارول شي، مخاطب باید دویمه مانا ورڅخه واخلي، نه ظاهري او لومړنۍ مانا.

محاورې او اصطلاحات د عام ولس په ژبه کې ډېرې کارېږي، ځینې یې هغوی ته عادي شوې وي، د اصطلاحاتو مجازي مانا ته لوستونکی او اورېدونکی ژر رسېدی شي خو د محاورو هغې ته بیا له لږ مکث وروسته. محاورې او اصطلاحات چې په شعر و هنري نثر کې استعمال شي، د شعر و نثر خوند ورسره اضافه کېږي، د ځینو لیکوالو او شاعرانو خو همدا د سبک ځانګړنه وي چې محاورې او اصطلاحات ډېر کاروي. ګومان نه کوم چې عام ولس دې دا ژبني اصطلاحات د کلام د ښکلا په پار ایجاد کړي وي، ممکن د وخت د سپما، د تاکید، د کلام د مؤثر کولو او نورو موخو لپاره به یې محاورې او اصطلاحات منځته راوړي وي.

ځینې محاورې او اصطلاحات په یوې ځانګړې جغرافیې پسې تړلي وي، که یې د بلې سیمې کوم څوک واوري، په مانا به یې پوه نه شي، د داسې محاورو تر شا لکه متل یوه کیسه پرته وي، چا ته چې هماغې کیسه معلومه نه وي، نو طبعاً پر محاوره به پوه نه شي.

### محاورې او اصطلاحات له متل سره څه توپیر لري؟

متل ډېری وخت یوه پوره جمله وي، خو محاوره او اصطلاح د څو مانیزو لغتونو او یا وییکو ټولګه یا یو غونډ وي، یو څوک متل په دې موخه کاروي، چې خپله خبره پر مقابل کس ومني او د خپلې خبرې د تضمین لپاره یې هم کاروي. ممکن محاورې او اصطلاحات د پخوانیو متلونو او وراشو نچوړلې بڼې وي. متلونه د مثال په راوړو سره یوه مفکوره توضیح کوي خو محاوره د خبرې د تضمین لپاره نه، بلکې مرکزي هسته او محوري برخه پخپله محاوره وي، د جملې مانا د محاورې پر محور راڅرخي، له متله لومړنۍ مانا هم اخیستلای شو خو له محاورې دویمه مانا اخیستل پکار دي. د متل موضوع یو ډول نصیحت او د یوې غوره وګړنۍ تجربې پایله وي، خو محاوره (ګړنه) بیا داسې تړلې نه ده، ټول ټولنیز موضوعات رانغاړي؛ نه یوازې نصیحت، وجیزې او وراشې(کډوال، ۱۳۹۱: ۲۳). متلونه معمولاً یو هدف یا مفکوره د مثال په راولو سره توضیح کوي او عمده وظیفه یې "توضیحي" ده، نه علمي استدلال( روهي، ۱۳۸۶: ۱۱۹). لکه دا متل: لوخې د خپلو ښه نه غوښته، خدای یې سر په اوبو کې وچ کړ. په دې متل کې یې د خپلوانو ښه غوښتلو مفکوره د لوخې په مثال راوړلو سره توضیح کړې ده. محاورې او اصطلاحات په لرغونو وختونو کې د ولس د افرادو ادبي او مجازي ژبې ته د تمایل نخښې دي، چې ځینې یې په ډېر تکرار سره

عادي شوي دي، د خبرو په جريان کې د مخاطب پاملرنه ډېره نه را جلبوي خو ډېری يې چې کله تر شعر و هنري نثره را ورسېږي، بيا نو لکه يو شعري تصوير هومره خوند لرلای شي. دوکتور ښکلی کليشه شوي محاورې (ګړنې) مړې استعارې نوموي، نوموړی ليکي: "ګړنې، متلونه او کليشه شوي عبارتونه چې د ډېرې کارونې له امله د عادي کلمو غوندې شوي، چې مانا يې په قاموسونو کې هم موندلای شو، په مړو استعارو کې شمېرل کېږي، چې د نورو استعارو غوندې د انساني ادراک مهمې وسيلې دي " ( ښکلی، ۱۳۹۸: ۵۴). ټول علوم له يو بل سره اړيکې لري، هيڅ کومه پديده په مجرده او مطلقه توګه د څېړنې وړ نه ده، ګرامر له بلاغي علومو او بلاغي علوم له نورو ټولنيزو علومو سره راکړه ورکړه لري، ادبيات بيا د مجازي ماناوو ميدان دی، محاورې او اصطلاحات د ګرامر له رويه په فرازيالوژي کې د مطالعې وړ دي، فرازيالوژي اوسمهال د ژبپوهنې يوه مستقله څانګه ګڼل کېږي(هلالي، ۱۳۵۴). محاورې او اصطلاحات د معاني له اړخه هم د څېړنې وړ دي، معاني د ګرامري قواعدو معنوي بحث دی، په معاني کې د هغو جملو په باره کې بحث کېږي، چې پرته له لفظي قرينې څخه پخپله ظاهري مانا کې استعمال شوې نه وي(شميسا: ۱۳۸۳). محاورې او اصطلاحات هم هغه ترکيبونه يا عبارتونه دي چې مخاطب بايد ترې دويمه مانا واخلي. په محاورو او اصطلاحاتو کې هم کومه لفظي قرينه شتون نه لري چې د مخاطب ذهن له ظاهري مانا څخه ثانوي مانا ته منصرف کړي.

### محاورې او اصطلاحات له کنايو سره څه توپير او ورته‌والي لري؟

کنايه هغه ترکيب يا جمله ده، چې د ويونکي موخه ترې د هغې ظاهري مانا نه وي، بلکې باطني مانا ترې مراد وي، خو بغير له کومې ښکاره قرينې و صارفې څخه؛ نو کنايه د يوه مطلب ذکر کول او بل مطلب و مانا ترې اخيستل دي، چې دا د مانا انتقال يا بل مطلب اخيستل د لازم و ملزوم له طريقه يا برعکس صورت نيسي. لکه څنګه چې د کنايې په تعريف کې ويلی شو چې د يوې جملې يا ترکيب راوړل دي چې د ظاهري مانا پر ځای مراد يو له لوازمو د هغې مانا وي. الفاظو او ظاهري مانا ته مکني‌به او مقصودي مانا ته مکنيه‌عنه وايي. مثلاً په دې جمله کې: د پلاټکي د کور ور تل خلاص وي. مراد ترې دا دی چې هغه شخص سخي او مېلمه پال دی، ځکه د مېلمه پالنې له لوازمو څخه يو دا دی چې د سخي سړي ور تل د مېلمنو او خلکو پر مخ خلاص وي، د وره خلاص‌والی مکنيه‌به او مېلمه‌پالنه مکنيه‌عنه بلل کېږي( شميسا،۱۳۸۳: ۹۳). کله چې دوه تنه سره بحث کوي، هغه يو وايي: "دوه کميسه مې تر تا ډېر زاړه کړي دي"که د دې عبارت ظاهر ته وګورو يو مفهوم او که د دې عبارت لوازمو ته دقت وکړو، بل مفهوم افاده کوي. په دې عبارت کې لازم دا دی چې دوه کميسه مې تر تا ډېر زاړه کړي دي، نو تر تا مشر يم، چې تر تا مشر يم، ډېره تجربه

هم لرم؛ نو تر تا زيات فهم او درك هم لرم، نو د بحث په موضوع كې پر حقه يم (كدكني، ۱۳۵۸: ۲۲).

محاورې، اصطلاحات او كنايې دواړه د غير مستقيم بيان وسيلې دي، مثلاً كه چاته ووايو پر خوله لاس كښېږده! نو دا كنايه ده، چې مانا يې چوپ كېدل دي، يعنې پر خوله لاس ايښودل لازم او چوپتيا ملزوم ده(درمل، ۱۳۹۷). خو پر خوله لاس اېښودل بيا اصطلاح ده.

د محاورو - اصطلاحاتو او كنايو تر منځ دا توپير دی، چې له كنايې څخه لومړی مانا هم اخيستلای شو، يعنې لازم او ملزوم دواړه د متكلم يا ويونكي مراد كېدلای شي، خو له محاورو او اصطلاحاتو څخه بايد بغير له كومې قرينې دويمه مانا واخيستل شي. په كنايه كې له لازمه د ملزوم پر طرف حركت وي، خو په ډېری محاورو او اصطلاحاتو كې داسې څه نه تر سترګو كېږي. داسې به ووايو چې د ډېری كنايو بنسټ پر فعلي محاورو باندې ولاړ دی، لكه نوكونه جنګول چې يوه محاوره ده او د دوو كسو تر منځ د جنګ پر اور د تېلو له شيندلو څخه كنايه ده. ډېری كنايې د محاورو او اصطلاحاتو پر بنسټ ولاړې دي، مثلا له ويښو سترګو د رانجو پټول محاوره ده، چې كله ترې كنايه جوړوو، د پټول مصدر پر فعل بدلوو، وايو: پلانكی له ويښو سترګو رانجه پټوي يا وايو پلانكی له ويښې مور زوی پټوي يا وړي، يعني ډېر بيداره او چالاكه دی.

محاورې او اصطلاحات چې ډېری يې د ولس تر منځ د كنايو په شكل كارېږي، د ولس په مزاج پوه شاعران و ليكوال همدغه ژبني اصطلاحات د ولس له ژبې تر شعر و نثره پورې راولي او كلام پرې مخيل، تصويري او ښايسته كوي. كله چې همدغه محاورې او اصطلاحات د جملو برخه ګرځي، زياتره وخت كنايې رغوي، لكه: تلې شنې كېدل: له مړه كېدلو څخه كنايه ده، مثلاً: تلې دې شنې شه! د تلو شين‌والی د مړي له لوازمو څخه دي او مراد ورڅخه مړه كېدل دي، دې ډول كنايې ته له موصوف څخه كنايه ويلی شو.

اوس به دلته ځينې محاورې راوړو چې ډېری يې كنايي ماناوې لري او زياتره يې له فعل يا مصدر څخه كنايې او يا هم ايماء كنايې دي. لاندې مو ډېری فعلي محاورې راوړې دي او په څنګ څنګ كې به ورسره يوه نيمه اصطلاح هم راغلې وي:

۱ ـ په مردارو اوبو كې درېدل: جنګ ته بهانې لټول، مثلاً: هغه په مردارو اوبو كې ولاړ دی، پرېږده يې، خبره مه ورسره شاربه.

۲ـ ښه خولۀ نه وهل: د چا بدي بيانول، مثلاً: اځک ښه خولۀ نه ځنې وهله.

۳ - په سړو اوبو كې خولې كېدل: له غوسه كېدلو څخه كنايه ده. مثلاً: هغه ته په سړو اوبو كې خولې شوم.

۴ـ په هګۍ کې چونېدل: له هوښیاري او ځیرکۍ څخه کنایه ده. مثلاً: ځیرك په هګۍ کې چونېدلی دی.

۵ ـ په پخو وریجو کې د اوبو تویېدل: د توقع خلاف کار رامنځته کېدل، مثلاً: ستا په راتګ د زمرك په پخو وریجو کې اوبه توی شوې.

۶ـ مړ مړ کېدل: خوټېدل، جوش خوړل، ژړا ته بهانه لټول، مثلاً: څه مړ مړ کیږې؟

۷ـ شا پر شمزۍ کېدل: دوه زړي توب، زړه نازړه کېدل، وړاندې وروسته کېدل، مثلاً: شا پر شمزی مه کیږه.

۸ـ شا سپېرېدل: له ناکامېدلو څخه کنایه ده، مثلاً چاته دعا کوو: شا دې مه شه سپېره! د غېږې نیونې دود پخوانی دی، کله چې به کوم پهلوان د بل ملا ځمکې ته ورسوله؛ نو لوبه به یې وګټله او د چا چې به ملا سپېره شوه، لوبه به یې بایللې وه. دې ډول کنایې ته هم تلویح ویلی شو.

۹ ـ پردی ښوروا ته مړی وړول: لکه د سوال اوبو ته د ژرندې اینبوول. مثلا: څه پردی ښوروا ته دې وړه کړې ده.

۱۰ـ بوټ منګۍ کښېناستل: چوپ او حیران دریان کښېناستل. مثلاً: بوټ منګی مه کښېنه.

۱۱ـ غوږ جنګول: له چا خبرې را ایستل. مثلاً، ته یو ځل غوږ ورسره وجنګوه.

۱۲ـ وړۀ وړۀ تویېدل: بې سبکه بې شیمې کېدل، خوب غالبېدل. مثلاً، ملالۍ وړۀ وړۀ تویه شوه.

۱۳ـ په پردې واده کې سپې په ډانګونو وهل: د هغه کار سرته رسول چې د کار په کوونکې پسې مربوط نه وي.

۱۴ـ یوه شي او یا کار ته غلی کېدل: فرصت ته په تمه کېدل، په کمین کې کښېناستل، مثلاً: هغه د دوکان اخیستلو ته غلی دی.

۱۵ـ پر کارغانو کوترې نیول: یو چاته داسې دنده ورسپارل چې وړ یې نه وي. مثلاً: خواځك پر کارغانو کوترې نیسي.

۱۶ـ تر ډالۀ "ḍālə" سوک ایستل: د راز پر خبره خلك خبرول، پټه خبره ښکارول. مثلاً: تا نو تر ډالۀ سوك وایست. څوك چې راز نه شي ساتلی، زموږ خلك ورته بزه ډول "پرې، شکېدلی، سوری ډول" وایي.

۱۷ـ پر سر د غنمو نیني کېدل: چاته په غوسه کېدل. لکه: پر سر مې غنم ورته نیني شول. دلته د غوسې شدت ښوول شوی، یعني سر مې له ډېره کاوړه( غوسې) لکه توده تبغنه (تبی) داسې سور شو، که د غنمو دانې پرې وپاشې نو نیني به شي. په دې کنایې کې هم واسطې ګڼې دي، نو تلویح ورته ویلی شو.

۱۸ـ نر مچ پر پوزه نه پرېښوول: غرور لرل، د چا خبره پر سر نه اخیستل.
۱۹ـ وروړ مړه کېدل: سپینې تبنتېدل، مثلاً: د سپین‌گل وروړ مړه دي، کار ته یې گوتې نه ورځي.
۲۰ـ سترگې ور/ را پټول: له دوکې ورکولو څخه کنایه ده. مثلاً: زما یې سترگې راپټې کړې او سودا مو وکړه.
۲۱ـ لویه لوټه ایښودل: ځان ته مغروره کېدل، لکه: پلانکي ځان ته لویه لوټه ایښې ده.
۲۲ـ سترگه نه ډکېدل: پر خپل مټ باور او تر نورو نظرتېري، مثلاً: د غیرت پر چا سترگه نه ډکېږي.
۲۳ـ سترگه سوځېدل: له وېرېدلو څخه کنایه ده، مثلاً: د خیبر له دوی سترگه سوځي.
۲۴ـ تر خولې خوړېدل: له شتمن کېدلو څخه کنایه ده، مثلاً: هغه تر خولې خوړېږي. هر لوښی چې تر مورگو پورې ډک شي، نور محتویات پکې نه ځایېږي، نو طبعا پر مورگو یې اوړي.
۲۵ـ پیلغو کېدل: ملگري کېدل، مثلاً: دوی دواړه اوس سره پولغو دي. پولغو کېدل شراکت ته وایي، په پخوا وختونو کې به خلک پر غویو سره پولغو کېدل، دوه بزگران به وو، یو یو غویی به یې درلود؛ نو سره پولغو به شول، یوه کروندگر به هغه بل ته خپل غویی د یوې اونۍ په مخه ورکړ، یوه اونۍ به هغه بل بیا لومړنی بزگر ته خپل غویی ورکړ، په دې شکل به د دواړو ځمکې یوې شوې.
۲۶ـ کڼی جارول: یو ځای ته ډېر تگ راتگ کول.
۲۷ـ پر ځان گوته وهل: ځان جوړول، ځان ته توجه کول، مثلاً: اتل اوس پر ځان گوته وهي.
۲۸ـ پر جېب لاس "را، در، ور" تېرول: له چا غلا کول، په دوکه له چا څخه پیسې شکول، مثلاً: هغه یې پر جېب لاس ور تېر کړ.
۲۹ـ پر سر لاس ور تېرول: پر چا رحم او شفقت کول، مثلا: د هغه بېچاره دومره څوک نشته چې پر سر یې لاس ور تېر کړي.
۳۰ـ لمر ته په اوبو لیکل: یعني یو جنس له چا مفت وړل، مثلاً: څوک له چا یو شی په قرض وړي او ورته وایي: د لمر مخ ته یې پر سپین کاغذ پر اوبو ولیکه. یعني د اوبو رنگ سپین وي، نو چې پر سپین کاغذ څه پرې ولیکې، نه معلومېږي؛ نو چې ژر یې د لمر وړانگې هماغه لیک وچ کړي، بیا نو بېخي نه ښکارېږي. مطلب هیڅ ثبوت هم نه وي چې د قرض معامله شوې ده، یعني جنس مفت وړل شوی دی. دا گړنه د تلویح کنایې ښه بېلگه ده.
۳۱ـ څوس کښل: هاخوا دېخوا کتل، ځان ته د هر شي معلومات کول، مثلاً: څه څوس کاږې؟
۳۲ـ پر غولي کېدل/کول: له واده وروسته د خسر کور ته د ورتگ قانوني اجازه ترگوتو کول. مثلاً: زمرک یې په غولي کړ. یعني زمرک ته یې وروسته تر واده خسر دا اجازه د یو لړ مراسمو پر ترخ

کې ورکړه، چې نور يې لکه د کورنۍ غړی داسې دی او اجازه لري چې پر غولي يې کښېني. د پر غولي کېدلو دود د قره‌باغ په خروټو کې شته.

۳۳- د يو بل سيوري په لوټو ويشتل: له بېزارۍ او نفرت څخه کنايه ده، لکه: دوی د يو بل سيوري په لوټو ولي. يعني دومره له يو او بل څخه بېزاره دي، چې حتی د يوه بل سيوري يې لا بد اېسي يا له سيورو سره لا د دښمنانو غوندې چلن کوي.

۳۴- پر اومو شيدو سوځېدل: د طبعې له نازکوالي څخه کنايه ده، لکه: ته ښځې پر اومو شيدو سوځې.

۳۵- اسمان ته کتل: غرور کول، کبر کول، مثلاً: هغه ښځې اسمان ته ګوري. څوک چې اسمان ته ګوري، طبعاً لاندې کسان نه ويني، دا برخه مکنيءبه او غرور کول او لاندې کسانو ته التفات نه کول مکنيءعنه بلل کېږي. له ظاهري مانا مقصودې هغې ته واسطې کمې دي؛ نو ايماء يې بللی شو.

۳۶- تلې شنې کېدل: له مړه کېدلو څخه کنايه ده، مثلاً: تلې دې شنې شه! د تلو شين‌والی د مړي له لوازمو څخه دي او مراد ورڅخه مړه کېدل دي، دې ډول کنايې ته له موصوف څخه کنايه هم ويلی شو.

۳۷- تر پزې ډکېدل: له مړښته کنايه ده. مثلا: ځان يې تر پزې ډک کړ.

۳۸- تر پزې رسېدل: له بېزارۍ کنايه ده. مثلاً: افغان کډوال د پوليسو له بد چلنده تر پزې را رسېدلي دي.

۳۹- تر سترګو الونيا کول: يو کار په سهي طريقه نه کولو ته وايي، مثلاً: څانګې! سم کار وکړه، تر سترګو يې مه الونيا کوه.

۴۰- د سوی سترګه خوړل: د خوب له تښتېدو او کم‌خوبۍ کنايه ده، مثلاً: هوسی نن بيا د سوی سترګه خوړلې ده. د سوی" خرګوش" په اړه مشهوره ده، چې کم خوب کوي او په رڼو سترګو ويده وي. دې ډول کنايې ته تلويح ويلی شو، ځکه چې له ظاهري مانا دويمې مانا ته د انتقال واسطې ګڼې دي.

۴۱- له کاسې لاس ختل: له بېلېدو کنايه ده. مثلاً: د ورونو چې له کاسې لاس سره وخېژي، لکه پردي داسې شي. په کومو ټولنو کې چې ګډ کورنی سيستم موجود وي، د پلار و مور تر ژونده ورونه سره ګډ ژوند کوي او ټول يو ځای ډوډۍ سره خوري.

۴۲- پرې شکول: له احمقانه کار کولو څخه کنايه ده، مثلاً: پلانکي نن بيا پرې شکولی دی. پر پرې باندې حيوانات تړي او شوخ حيوانات پرې شلوي.

۴۳- لاس پر نامه درېدل: له احترام څخه کنايه ده، مثلاً: د کور لوی واړه لاس پر نامه ورته ولاړ دي.

۴۴ـ لاس پرېولل: له تمې شکېدلو کنایه ده. مثلاً: لاس ځنې پرېمینځه، ولاکه سړی شو.
۴۵ـ تر خوړ ګوته نیول: د ضعف نقطه کښېکارېل، یعني د اکلیز پونده.
۴۶ـ سپوره خوړل: د مصارفو له کمولو یا شومتیا څخه کنایه ده، مثلاً: هغه یې اوس سپوره خوري. سپور خوراک هغه وي چې غوړي کم پکې مصرف شي، نو چې تر ضرورت کم غوړي مصرف شي، غوړي وسپمېدل.
۴۷ - د خلکو پر خولو د پاستو هوارول: د خلکو د خولو بندول، مثلاً، پرېږده یې! د چا پر خولو به پاستي هوار کړې؟
۴۸ -ګل کرل: بده خبره یا کار کول، مثلاً، پلانکي بیا څه ګلان کرلي دي؟
۴۹ـ سخوندر پر بام ترل: له نادیده‌توب څخه کنایه ده، نادیده کار کول، مثلاً: دوی سخوندر پر بام تړي.
۵۰ ـ بسیا کېدل: له واده کولو څخه کنایه ده. مثلاً، ښه شو چې زوی دې بسیا کړ. بسیا مېشتېدلو ته وایي، واده کول د مېشتېدلو له لوازمو څخه دي، دې ډول کنایې ته هم له موصوف څخه کنایه ویلی شو.
۵۱ ـ خاورې په خولۀ کېدل: په یو څه کې د ګټې پر ځای تاوان کول، لکه: د دۀ بیا خاورې په خولۀ شوې.
۵۲ـ خولۀ بویول: له چا خبره را ایستل، پر مسئله د ځان پوهول، مثلاً: ته یې یو ځل خولۀ بوی کړه چې دی لا څه وایي؟
۵۳ـ غوږ جنګول: له چا څخه د خبرو او معلوماتو اخیستل، مثلا: ته یو ځل غوږ ورسره وجنګوه، چې دی لا څه وایي.
۵۴ـ خولۀ باد ته نیول: په لوږه کښېنستل. مثلاً، موږ هم لاندی کړی دی، خولۀ خو مو باد ته نه ده نیولې.
۵۵ ـ د لښتي دواړې (خواوې، غاړې) خوړل: له داسې پالیسي څخه کنایه ده، چې یو څوک غله ته وایي غلا کوه او څښتن ته وایي بیدار اوسه، یعني د دوو متخاصمو ډلو سره یاري لرل، مثلاً: هغه د لښتي دواړه خواوې خوري.
۵۶ـ ترخې کښل: باتې ویشتل، لاپې وهل، یو څوک غیر مستقیم تهدیدول.
۵۷ـ پښې اسمان ته نیول: کبر کول، غرور لرل، مثلا: پلانکي پښې اسمان ته نیولې دي.

۵۸ـ د دوو کسو تر منځ د تور سپي تېرېدل: له دښمنۍ، له بد اېسېدلو او تربګنۍ کولو څخه کنایه ده. د دې کنایې بنسټ پر دې کرښې ولاړ دی: تور سپی د ډېری پښتنو په نظر کې بد شګوم لري، د بدبختي لامل یې بولي؛ نو د چا تر منځ چې تور سپی تېر شي بد شګوم بلل کېږي.

۵۹ ـ سره غوښه او چاړه کېدل: له دښمن کېدلو څخه کنایه ده، مثلاً: دوی سره چاړه او غوښه دي. پر چاړه باندې غوښه ټوټه کېږي، لکه سره دښمنان چې وي. دې ډول کنایې ته ایماء ویلی شو.

٦٠ـ پر نوکانو خېژول: د یو چا ډېر نازول، یو چا ته ډېر ناز ورکول. مثلاً: زرغونه خپله خواښې پر نوکانو خېژوي.

٦١ـ پیخې ټولول: له چا څخه ځان ګوشه کول، مثلاً: له دوی څخه نورې پېخې راټولې کړه، خلک ښه خوله نه ځنې وهي.

٦٢ـ خولهٔ تلل: وارخطا کېدل، حیراندېدل. د بېلګې په توګه: دهٔ چې ستا خبره واورېده، خولهٔ یې ولاړه.

٦٣ـ د ژبې پر سر د وېښتانو شنه کېدل: چاته له ډېر نصیحت کولو څخه کنایه ده، چاته چې تل نصیحتونه کوې او تاثیر نه پرې کوي، هماغه خرک وي او هماغه درک، مثلاً: پر ژبه مې وېښتان ورته راشنه شول، دی کله د چا خبره مني.

٦۴- خولهٔ اسمان ته نیول: له ژړلو څخه کنایه ده، ځینې کوچنیان چې ژاړي، خوله اسمان ته نیسي. مثلاً: ده بیا خوله اسمان ته نیولې ده. یعني بیا ژاړي.

٦۵- سره یوه خولهٔ کېدل: د دوو کسو پر یوه خبره اتفاق سره راتلل، مثلاً: دوی اوس سره یوه خولهٔ دي.

٦٦- چاته په سترګو کې ور ختل: دروغ ویل، پر حقیقت سترګې پټول، یو څوک د چا د سترګو پر وړاندې کومه ګناه کوي، کله چې یې څوک رټي، دی منکر کېږي، وایي دا کار یا ګناه ما نه ده کړې نو مقابل کس ورته وایي: څومره بې‌شرمه یې په سترګو کې راخېژې.

٦۷- ځان له خپل ځان سره وړدول: له شومتیا څخه کنایه ده، یعنې مصرف نه کول. مثلاً: هغه ځان له ځان سره ایښې دی.

٦٨- د سترګو اوبه وتل: سپین‌سترګی کېدل، د شرم پر کار نه شرمېدل. مثلاً: د پلانکي د سترګو اوبه وتلې دي، ډېر سپین‌سترګی دی.

٦٩- سترګې توربدل: سر ګرځېدل، مثلاً: پر دېواله نه شم تلای، سترګې مې توربږي.

۷۰- باران ورېدل او چاکونه پټېدل: وخت تېرېدل او ځینې خبرې له خلکو هېرېدل. یو چاته د هغه د تورې ماضي پېغور ورکول او وریادول. مثلاً: دهٔ خو بیا اشامی ترلې ده، بارانونه وشول چاکونه پټ شول، دا دی د مرکې په سر کې ناست دی.
۷۱- نوک نیول: د کم وخت لپاره منتظرېدلو ته وایي. مثلاً: په ټولګي کې شورماشور وو، ما لږ نوک ونیوی بیا مې دروازه ور وټکوله.
۷۲- سترګې ختل: یعني ډېر انتظار کول. مثلاً: سترګې مې وختې، ته پسې څه شوې؟
۷۳- خوې"xawe" لګول: زیار ایستل، مثلاً: هغه په ژوندوني خپل اولاد ته ډېرې خوې ولګولې، حتی خپل ایمان یې ورته ګرو کړ.
۷۴- تر ګوتو کول: لاسته راوړل، حاصلول. دا څرګندنه ده.
۷۵- سترګې سره ورتلل: چاته خوب ورتلل، ویدېدل. مثلاً: زما چې کله سترګې سره ورتلې، راویښ یې کړم.
۷۶- بانه سره ورتلل: څرګندنه ده، مانا یې خوب ورتلل کېدای شي، مثلاً: بانه یې سره ورغلل یعنې ویده شو.
۷۷- د بمبرو ځالې ته ګوتې وروړل: یو داسې څوک چېړل چې بدژبی وي، سپکې سپورې وایي یا ژر کاوړ (غوسه) ورځي.
۷۸-ګوتې ښتل: ډوډۍخوړل پایته رسول. مثلاً:ګوتې مو لا نه وې ښتلې، چې چای یې راووړ. دا هم څرګندنه ده.
۷۹- شولې کرل: په یوه ځای یا یو ښار کې له ډېر وخت تېرولو څخه کنایه ده، مثلاً: تا هلته څه شولې کرلې دي چې نه راځې؟
۸۰- پل پونده نه ټینګېدل: یوه نه دوه کېدل، ژوند او کاروبار نه برابرېدل، مثلاً: د پلانکي پل پونده نه ټینګېږي.
۸۱- خرې نیول: سرمایه پیدا کول، مثلاً: ته ودر لږ خرې ونیسم بیا به زوی بسیا کړم. پښتانه پیسو او شتمنۍ ته د لاس خیرې وایي.
۸۲- خولهٔ ښورول: له چا سره ژبه وهل، خولهٔ وهل، د هرې خبرې ځواب یې ورکول، مثلاً:ګوره له مور سره دې خولهٔ مه وهه!
۸۳- پښې نه پرې ورتلل: د داسې چا یا ځای ملاقات ته تلل چې زړه دې نه غواړې ورشې.
۸۴- زړهٔ رږغول: متردد کېدل، دوه‌زړې‌توب، مثلاً: زړه ورته رږغوم چې ورشم که یه؟

۸۵- خپله کول: د خپلې خوښې کار یا خبره عملي کول، مثلاً: هغه تل خپله کوي، د بل واله نه اوري.
۸۶- ورخ خطا کېدل: په غلطو لارو تلل، خپل ژوند بربادول، له ښه سړي څخه بد څوک جوړېدل، یا شتمن څوک خوارېدل.
۸۷- مچان شړل: یعني وزګار کښېناستل، د کار له کموالي څخه کنایه ده، مثلاً: هغه دوکاندار ټوله ورځ له ځانه مچان شړي.
۸۸- ساړه خوړل: صبر کول، مثلاً: لږ یې ساړه خوره، خدای به هرڅه سم کړي.
۸۹- سره خوړل sara xwaṛal: جنګ او دعوای سره کول: دوی بیا سره خوړلي دي، نن یې مرکه وه.
۹۰- بربت تاوول: ویاړل، فخر کول. مثلاً: هغه په زړه‌کلا کې د شپې پر پټیو اوبه لګولې دي، تر اوسه بربت تاووي.
۹۱- غوږ لستوڼی لرل: سرمایه او شتمني لرل، مثلاً: د هغه لستوڼی غوږ دی، هر څوک یې خاطر کوي.
۹۲- تر ټولې دنیا لاړې (ناړې) راګرځول: له ډېر حرص لرلو څخه کنایه ده، مثلاً: هغه تر ټولې دنیا لاړې راګرځوي.
۹۳- د پلار نیکه هډوکي خوړل: له پلار و نیکهٔ څخه د ورپاتې شوې ځمکې له حاصلاتو استفاده کول.
۹۴- تر زړهٔ لوېدل: په یو چا پسې زړهٔ تړل، له ډېر ګرانښت څخه کنایه ده. مثلاً: لمسی یې تر زړهٔ لوېدلی دی.
۹۵- د خولې ګوله نیمول: له زړه‌سواندي څخه کنایه ده، مثلاً: هغه د خولې ګوله ورسره نیموله خو ده پر رینه(رونه) ډاګ پرېښود.
۹۶- خاورې ور په خولهٔ کول: دوکه ورکول، له چا سره غلطي کول.
۹۷- مرداري هګۍ جنګول: په معاملاتو کې دوکه کول، مثلاً: هغه مرداري هګۍ جنګوي، پام کوه، هسې نه خاورې در په خولهٔ کړي.
۹۸- ترنګ خوړېدل: سات تېرېدل، مثلاً: د هغه د خسر کره ښه ترنګ خوږ دی.
۹۹- تر وېش په تالا خوشاله کېدل: د اړ و دوړ غوښتل. د بیلګې په توګه: د دهٔ خبره مه منه، هغه خو تر وېش په تالا خوشاله دی.

۱۰۰- لاس‌سوری کېدل: تر اندازې زیات سخاوت، مثلاً: هغه ښځي لاس‌سوری دی، په لاس کې يې غیران نه ټينګېږي.

۱۰۱- اله لا جوړول: بیړه کول، لکه: څه اله لا دې راپسې جوړه ده. اله لا هماغه د (هله هله) کلمې بدل شوی شکل دی.

۱۰۲- لاس نیول: خوراک بس کول، لکه: ولې دې لاس ونیو، دا تالی به خلاصوې!

۱۰۳- شعر خلاصېدل: له خوشالي څخه کنایه ده، لکه: نن دې ښه شعر خلاص دی یعني طبعه دې برابره ده، لکه بلبل ږغېږې.

۱۰۴- توتي ګونګ‌ېدل: طبعیت خرابېدل، خبرې نه کول، خپه معلومېدل، مثلا: نن دې توتي ګونګ دی، ولې خپه يې؟

۱۰۵- زړهٔ وهل: ژر مړېدل، مثلاً کله چې کوم خوراک ډېر غوړ یا ډېر خوږ وي، نو خوړونکي يې وايي: زړهٔ يې راوواهه.

۱۰۶- زړهٔ یخېدل: ینه یخېدل، خوا سړېدل، پر یو څه خوشاله کېدل، لکه: هغه ته يې نن ښه فرش ورکړ، ښه مې زړهٔ پرې یخ شو.

۱۰۷- زړهٔ سړېدل: خوا سړېدل، زړهٔ یخېدل، مثلا: ښه يې وواهه، سم مې زړهٔ پرې سوړ شو.

۱۰۸- خوا بدېدل: څرګندنه ده چې مانا يې خفه کېدل دي. مثلا: سخته مې خوا درنه بده ده.

۱۰۹- خوا ګرځېدل: له یو چا څخه بد وړل. مثلا: چې ويې وینم، خوا مې راګرځي.

۱۱۰- واندې کېدل: دچا پر کور د زیات وخت لپاره د مېلمنو اړول، مثلا: پر دوی خو بیا لس کسه واندې دي.

۱۱۱- زړهٔ تشول: د زړه خوالهٔ سره کول، د زړهٔ رازونه سره ویل.

۱۱۲- د سر ګرولو ته نه وزګارېدل: له ډېرې بوختیا څخه کنایه ده. مثلا: کارونه ډېر دي، د سر ګرولو ته وزګار نه یم.

۱۱۳- پښې رپول: له مړهٔ کولو څخه کنایه ده خو ډېری وخت په وهلو کې د مبالغې لپاره کارېږي تر څو مقابل کس وپوهوې چې دومره به دې ووهم چې لکه حلال کړی څلوربولی پښې به راته ورپوې. لکه: په لاس به راشي، ولا به پښې راته ورپوې.

۱۱۴- پر یو څه یا شي سترګې سوځېدل: د یو څه یا شي د کتلو تاب نه لرل، مثلاً: زما د پلار په موټر کې سپور وو، سترګې مې پرې وسوځېدې.

۱۱۵- په خولهٔ کې د سپي تړل: له بدې او تېرې ژبې لرلو څخه کنایه ده، مثلا: هغه/هغې په خولهٔ کې سپی تړلی دی، اېل یاغي ټول پرې داړي.

۱۱۶- سترګې ور اوښتل: د خلکو د نظر جلبول، مثلا: ګوره سترګې در اوړي، خدای‌ناخواسته څوک دې په نظر نه کړي.

۱۱۷- په خولۀ پسې نښتل: جنګ او دعواوو ته رغبت لرل. لکه: څه بلا یې، لکه پیږه په خوله پسې موښلې.

۱۱۸- تر سر نیول: د شک پر بنیاد پر چا باندې د کومې ګناه اقرار اخیستل او مقابل کس ته ځان داسې ښوول چې ګواکې زه دربارندې خبر یم چې دا کار تا کړی دی. لکه: زما په ګومان غل همدی دی، ته یې تر سر ونیسه، منې یې.

۱۱۹- د بلا خولې ته ورکول: څوک په مشکلاتو اخته کول، یو څوک خطر ته ګوښی پرېښوول، لکه: زه یې د بلا خولې ته ورکړم او دۀ خپلې پیڅې ور ټولې کړې.

۱۲۰- له حلالو خلاصېدل: مفلس کېدل، له حلالو څخه هدف حلالې روپۍ دي، لکه: په واده مې دومره مصرف راغی ولا له حلالو یې خلاص کړم.

۱۲۱- لمن پر سر اړول: خپل ځان پخپله رسوا کول، خپل راز پخپله فاش کول. مثلا: خپله لمن څوک پر خپل سر نه اړوي.

۱۲۲- توده خوړل: بې صبري کول. مثلا: دومره یې توده مه خوره، لږ وار کوه. دا هم څرګندنه ده.

۱۲۳- ملا تړل: له ملاتړ کولو او له چا سره مرسته کولو څخه کنایه ده.

۱۲۴- غولې غولې کېدل: بې ګټې یوه ډله خلک سره ها خوا دېخوا ګرځېدل. مثلا: څه کوئ چې غولې غولې کېږئ؟

۱۲۵ـ سر غوښتل: په سر کې سپړې لټول.

۱۲۶ـ غاښ چیچل: صبر کول او یا غوسه کول. مثلاً: ته یو څو ورځې راته غاښ وچیچه پیسې دې درکوم. یا مور زوی ته غاښونه وچیچل، یعنې ورته په غوسه شوه، که په دا دویمه مانا یې وکاروو، بیا څرګندنه ده.

۱۲۷ـ تر ګوتو کول: دا یوه څرګندنه ده، چې مانا یې لاسته راوړل کېږي.

۱۲۸ـ مخ سور کېدل: دا هم یوه څرګندنه ده، چې مانا یې شرمېدل ده. مثلاً: چې درواغ یرې رښتیا شول، مخ یې تک سور واوښت.

۱۲۹ـ رنګ تښتېدل: څرګندنه ده، مانا یې وارخطا کېدل دي.

۱۳۰ـ سرتوره کېدل: بې عزته کېدل. مثلاً: ښځې چې بلې ښځې ته دعا کوي نو وایي: سرتوره مه شې!

۱۳۱ـ جوړنګان ایستل یا کښل: کله چې کوم چاته د شوخۍ، ټوکو یا تفریح د کولو اجازه ورکړل شي او هغه افراط پکې وکړي یا تر سرو کرښو تېر شي، نو بیا ورته وایي چې ته نو بېخي جوړنګان باسې.

۱۳۲ـ له شګو د غوړیو ایستل: له خسیس‌والي او کنجوسي څخه کنایه ده. مثلاً: پلانکی له شګو غوړي باسي.

۱۳۳ـ اوبه خړول: بهانې لټول.

۱۳۴ـ بابولالې ویل: بېځایه خبرې کول.

۱۳۵ـ بېړۍ میره کېدل: د بخت بیدارېدل.

۱۳۶ـ پۍ مۍ کېدل: سره ملګري کېدل. مثلاً: دوی اوس سره پۍ مۍ دي.

۱۳۷ـ تر واده پر ډلو(دهل‌ها) ډېرې تلل: تر اصلي کار په حاشیوي کارونو ډېر وخت او پیسې مصرفول.

۱۳۸ـ تر غرو لوېدل: یعني له یو چا څخه خوا بدېدل، خپه کېدل. مثلا: د غورځنګ پوښتنه وکه، که نه بیا به تر غرو لوېږي.

۱۳۹ـ ټمبه کېدل: یعني خپه کېدل. دی بیا له مورږ ټمبه دی.

۱۴۰ـ په کوټه درېدل: حمایت کول.

## پایله

د قره باغ د خروټو لهجه چې د سوېل ختیز ګروپ له لهجو سره نژدېوالی لري او ځینې ځانګړنې یې له منځني ګروپ لهجو سره ورته دي، د محاورو او اصطلاحاتو له اړخه یوه غني لهجه ده. په دې لهجه کې ډېر نادر محاورات او اصطلاحات شته، چې ډېر کم یې په ادبي آثارو کې استعمال شوي دي، خو ډېری یې نوي نوزي دي او په دې مقاله کې مو راخوندي کړي دي. په دې لیکنه کې د غزني ولایت قره‌باغ ولسوالۍ د خروټو له لهجې څخه یوسلوڅلوېښت ژبني اصطلاحات راټول شوي او تشریح شوي دي، همدارنګه د ځینو ژبینو اصطلاحاتو کنایي ماناوې هم بیان شوي دي.

محاورې او اصطلاحات هغه ثابت ترکیبونه یا عبارتونه دي، چې مخکې له مخکې د ژبې د ویونکیو له خوا منځته راغلي وي او د خبرو په جریان کې لکه متل داسې استعمالېږي، همدا ژبني اصطلاحات د جملې په منځ کې خپله خپلواکي ساتي، یاد ترکیبونه باید په دویمه مجازي مانا کې استعمال شي، نه په لومړۍ مانا. محاورې او اصطلاحات پخپل منځ کې سره توپیر لري، که د همدې ترکیبونو له متشکله اجزاوو څخه د مشترکې مانا څه نا څه ځرک ولګېده، اصطلاح او که ونه لګېده

نو محاوره ده. یعني د محاورې اصطلاحي مانا د ترکیب د اجزاوو پر مانا متکي نه وي، خو د اصطلاح مانا د ترکیب د اجزاوو له ماناوو لږ و ډېر معلوموالی شو. همدا راز محاورې پېچلې وي، ژر سړی پرې پوهېدای نه شي، خو اصطلاحات دومره پېچلې نه وي. په دې ځېړنیزه لیکنه کې ډېرې فعلي محاورې راغلې دي او یوه نیمه یکې اصطلاح هم شته.

محاورې او اصطلاحات د عوامو له ژبې ادبي ژبې ته ځي، د لویو شاعرانو او ادیبانو په آثارو کې ځان راښکاره کوي او لکه هنري انځور هومره نثر و شعر ته ښکلا وربخښي او نثر و شعر د ولس له ژبې سره نژدې کوي. محاورې او اصطلاحات لکه متلونه مخکې تر مخکې جوړ شوي ترکیبونه دي، چې د خبرو په جریان کې نوي نه جوړېږي. دا ژبني اصطلاحات له متلونو سره توپیر لري، متل یوه مفکوره د مثال په ذکر کولو سره تشریح کوي، متلونه منظوم هم وي، همدا راز محاورې او اصطلاحات غونډونه وي او متلونه ډېری وخت پوره جملې وي، داسې احتمال هم شته چې محاورې او اصطلاحات دې د متلونو او وراشو پاتې‌شوني وي. همدا رنګه د متل موضوع اکثره وخت پند و نصیحت وي، خو محاورې او اصطلاحات د بېلابېلو موضوعاتو اړوند وي.

محاورې او اصطلاحات په مجازي مانا استعمالېږي، نو ځکه له عادي نحوي ترکیبونو سره توپیر پیدا کوي، اکثره محاورې او اصطلاحات کنایي ماناوې لري، ځینې یې تشبیهي و مجازي دي او لږ و ډېرې یې اسطوره‌يي. کنایې او محاورې توپیر سره لري، کنایې په بیان‌پوهنه او محاورې او اصطلاحات په فرازیالوژي کې تر بحث لاندې نیول کېږي خو دا باید هېره نه کړو، چې د ډېرې کنایو بنسټ پر محاورو باندې ولاړ دی، همدارنګه محاورې، اصطلاحات او کنایې د غیر مستقیم بیان وسیلې دي.

## اخځلیکونه


1. درمل، احسان الله. (۱۳۹۷). **شعرستان**. کابل: سروش خپرندویه ټولنه.
2. روهي، محمد صدیق. (۱۳۸٦). **ادبي څېړنې**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
3. زیار، مجاور احمد. (۲۰۰۵). **پښتو پښويه**. دریم چاپ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
4. زیار، مجاور احمد. (۱۳۸۴). **د خوشال ادبي پښتو**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
5. شمیسا، سیروس. (۱۳۸۳). **بیان و معاني**. چاپ هشتم. تهران: انتشارات فردوس.
6. شفیعي کدکني، محمد رضا. (۱۳۵۸). **موسیقی شعر**. چاپ نهم. تهران: انتشارات آګاه.
7. ښکلی، اجمل. (۱۳۹۸). **استعاره؛ د انسان د ادراک وسیله**. وړمه دري میاشتنۍ مجله، دویمه دوره، دویمه ګڼه، ۴۴ مخ. کابل: کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی د پښتو ادبیاتو څانګه.

8. طالبي، عبداللطيف. (۱۳۷۰). **پښتني قبيلې**.کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمي د پښتو څېړنو بين اللمي مرکز.
9. غوربندی، ميراجان. (۱۳۹۵). **ګردود( لهجه) پوهنه**. کابل: جهان‌دانش خپرندويه ټولنه.
10. کړوال، شاه‌محمود. (۱۳۹۱). **ګړنې، ځرګندنې او نومونې**. جلال‌آباد: مومند خپرندويه ټولنه.
11. هلالي، عبدالحکيم.(۱۳۵۴). **پښتو قاموس ليکنه**. کابل: پښتو ټولنه.

Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Idioms and Expressions of the Kharoti Dialect

Maiwand Bakhtyar *1
Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Herat University
**Email**: Maiwand.bakhtyaar@gmail.com

## Abstract

Idioms and expressions are combinations of words or phrases that have a different meaning than their literal meaning, and it is difficult to understand their meaning from the combination of words. Idioms and expressions have implicit meanings that are made of free and bound morphemes and play a role as inseparable units in the sentence and have structural and semantic independence. The meaning of idioms is not derived from the meaning of the components of the composition, that is, their idiomatic meaning does not depend on the lexical meaning of the components of the composition. However, the overall meaning of Idioms can be inferred to some extent from their components. These Idioms and expressions like proverbs are already present in the speaker's mind and are used during the conversation. Khoruti dialect is rich in idioms and expressions, and most of the idioms and expressions have not entered the written literature, nor has anyone collected and explained these phrases. These phrases exist orally in the language of people, which if not preserved will be lost over time, recording them can help the development of language, literature and culture. The objective of this research article is to collect and preserve idioms and expressions from the dialect of the Kharoti tribe of Pashtuns. The research type of this article is library and field research and the research method is descriptive.

**Keywords:** Idioms, Expressions, Dialect, and Kharoti.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**